اټلی

# تاسو څه پوهېدلو ته اړتیا لرئ کله چې تاسو د نړیوال خوندیتوب یا خوندیتوب (د دویم یا ورپسې غوښتنلیک) لپاره بیا غوښتنه کوئ



PASHTO

**تاسو اوس په اټلی کې یاست، کوم چې د +EU یو هېواد دی.**
**د +EU هېوادونه دا دي:**

- د اروپايي اتحادیې (European Union, EU) 27 غړي هېوادونه عبارت دي له: اتريش، بلجيم، بلغاريه، کروئشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنگري، ايټاليه، لاتويا، ليتوانيا، لوکزمبورگ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پورتگال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيه، سلواکيا، سلونيا، اسپانيه، سويډن او
- 4 نور هېوادونه: آيسلېنډ، ليچتنستين، ناروې او سويټزرلنډ.

## منځپانگې


دوهم یا ورپسې غوښتنلیک څه شی دی؟ 3

کړنلاره څه ده؟ 5

- گام 1: ستاسو غوښتنلیک باید راجستر شي او بیا وسپارل شي 5
- گام 2: ستاسو د غوښتنلیک دمخه څېړنه -
- گام 3: په ورتوب باندې ستاسو د غوښتنلیک څېړنه -
- گام 4: ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه -

زما حقونه څه دي؟ -

زما مکلفیتونه څه دي؟ -

پایلې څه دي که چېرې زه خپل مکلفیتونه پوره نه کړم؟ -

تاسو به ځانگړې مرسته ترلاسه کړئ که تاسو ورته اړتیا لرئ -

که تاسو خپل هېواد ته ستنیدل غواړئ نو څه به وي؟ -

## دوهم یا ورپسې غوښتنلیک څه شی دی؟

**کله چې تاسو د +EU په هر هېواد کې د دویم ځل یا ډېرو لپاره د نړیوال خوندیتوب (چې د پناه غوښتنې په نوم هم پېژندل کیږي) لپاره غوښتنه کوئ، ستاسو نوې غوښتنلیک ته دویم یا ورپسې غوښتنلیک ویل کیږي.**

ستاسو نوی غوښتنلیک یو دوهم یا ورپسې غوښتنلیک دی حتی که ستاسو پخوانی غوښتنلیک په بل +EU هېواد کې شوی وي.

دوهم یا ورپسې غوښتنلیک د هغه پخوانۍ پرېکړې په اړه یو اپیل (استیناف) نه دی چې تاسو ترلاسه کړې. تاسو یوازې په هغه صورت کې دوهم یا ورپسې غوښتنلیک کولی شئ کله چې ستاسو د پخواني غوښتنلیک په اړه کړنلاره (پروسیجر) نهایي شوی وي. دا پدې مانا ده چې:

- تاسو دمخه د خپل پخواني غوښتنلیک په اړه پرېکړه ترلاسه کړې ده
- هېڅ اپیل (استیناف) روان نه دی، او
- د اپیل (استیناف) سپارلو د وخت حد پای ته رسېدلی.

په ساده ډول د پخوانۍ پرېکړې سره ناموافق کېدل د نړیوال خوندیتوب لپاره د بیا غوښتنې دلیل نه دی.

که چېرې تاسو دوهم یا ورپسې غوښتنلیک وکړئ، نو تاسو **نوي عناصر (لکه شواهد یا اسناد)** وړاندې کولو ته اړتیا لرئ کوم چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب ته د اړتیا حالت ادعا ملاتړ کوي.



**نوي عناصر** (اسناد) هغه عناصر دي چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب ادعا ملاتړ کوي او د کوم چې تاسو په خپل پخواني غوښتنلیک (غوښتنلیکونو) په جریان کې د وړاندې کولو وړتیا نه درلوده.



نوي عناصر نوي اسناد یا شواهد کېدی شي چې تاسو ترلاسه کړي یا ستاسو د وروستي غوښتنلیک په اړه د پرېکړې نېټې وروسته هغه پېښې چې پېښې شوي، د مثال په توګه:

- نوي پېښې چې له ستاسو سره پېښ شوي
- هغه نوې پېښې چې ستاسو په هېواد یا وطن کې پېښ شوي
- ستاسو په شخصي وضعیت کې بدلونونه.

**په استثنايي توګه، نوي عناصر هم هغه عناصر کېدی شي چې ستاسو د تیر غوښتنلیک پرمهال يې شتون درلود، که چېرې د لاندې دلیلونو څخه یو پلې شي.**

- ستاسو د پخواني غوښتنلیک په وخت کې ستاسو لپاره په دې نوي عناصرو پوهېدل ممکن نه وو.
- د ښه دلیل یا وجې لپاره، تاسو د دې نویو عناصرو په اړه خبرې نشئ کولی. پدې صورت کې، تاسو به د دې دلیلونو تشریح کولو ته اړتیا ولرئ.

هغه معلومات به په پام کې نیول کیږي کوم چې تاسو په خپل پخواني غوښتنلیک کې وړاندې کړي یا پیش کړي. په هرصورت ستاسو پخوانی غوښتنلیک به بیا نه پلټل (څېړل) کیږي.

## کړنلاره څه ده؟

چاروواکو ته د خبر ورکولو وروسته چې تاسو بیا د نړیوال خوندیتوب یا ساتنې لپاره غوښتنه کوئ (کوم ته چې ورپسې (دوهم) غوښتنلیک هم ویل کیږي)، په کړنلاره کې یې ډیر ګامونه شتون لري.

### ګام 1. ستاسو غوښتنلیک باید ثبتشي او بیا وسپارل شي

ثبتولو او سپارلو کې لاندې اړخونه شامل دي.



ستاسو د ګوتو نښانې به واخیستل شي.



ستا عکس (فوټوګراف) به واخیستل شي.




له تاسو څخه به وغوښتل شي چې خپل ټول د هویت، سفر او نور اړوند اسناد او همدارنګه نوي اسناد چې تاسو سره ستاسو په ملکیت کې دي وړاندې کړئ.




له تاسو څخه به وغوښتل شي چې خپل د اړیکو جزئیات (پته، د تلیفون یوه شمېره او د برېښنالیک یو ادرس) وړاندې کړئ.



تاسو کېدی شي یوه طبي کتنه ترسره کړئ.



تاسو او ستاسو شخصي سامان کېدی شي ولټول شي. ستاسو شخصي سامان ستاسو ملکیت پاتې کیږي او تاسو ته به بېرته درکړل شي، پرته له هغو شیانو څخه چې خطرناک ګڼل کیږي.



له تاسو څخه به وغوښتل شي چې

- خپل شخصي توضیحات (جزئیات) او د خپلې کورنۍ د غړو په اړه معلومات چمتو (وړاندې) کړئ چې پدې اټلی یا بل +EU هېواد کې استوګنه کوي (اوسیږي) (که چېرې کوم وي)؛
- راټول کړي، او ستاسو احتمالي ځانګړې اړتیاوې
- د دوهم یا ورپسې غوښتنلیک د کولو دلیلونه تشریح کړئ.

له تاسو څخه به وغوښتل شي چې لاندې کارونه وکړئ.



• ټول هغه معلومات او اسناد وسپارئ چې ستاسو د غوښتنلیک ملاتړ لپاره شتون لري. پدې کې هغه نوي عناصر شامل دي د کوم پر بنسټ چې تاسو دوهم یا وروستي غوښتنلیک جوړ کړی. نوي عناصر کېدای شي نوي حقایق یا شواهد وي چې دا وړاندیز کوي چې تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.

• د نړیوال خوندیتوب لپاره خپل د پخوانیو غوښتنلیکونو په اړه پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.





هر هغه معلومات چې تاسو یې له چارواکو سره شریکوئ به پټ پاتې کیږي. دا معلومات به هېڅکله له هغو کسانو سره شریک نه شي له چا څخه چې تاسو د خوندیتوب غوښتنه کوئ.

## ستاسو د غوښتنلیک ثبتول او سپارل به کله او چېرته ترسره شي؟

د ۳۱/۱۰/۲۰۲۶ نېټې پورې، ستاسو د نړیوال خوندیتوب (پناه غوښتنې) غوښتنلیک به په کوېستورا (د پولیسو مرکز) او یا د سرحدي پولیسو په دفترونو کې، په هغې نېټه او وخت چې تاسو ته به خبر درکړل شي، ثبت او رسمي شي. دا ثبت او رسمي کېدل باید د غوښتنلیک له سپارلو یا د لومړنیو څېړنو له پای ته رسېدو څخه وروسته، لږ تر لږه په ۵ ورځو کې دننه ترسره شي.

دا ډېره مهمه ده چې تاسو دغې ټاکل شوې لیدنې ته حاضر شئ او خپل غوښتنلیک رسمي کړئ. که نه، ستاسو غوښتنلیک به داسې وګڼل شي چې ګواکې تاسو بېرته اخیستی (صرفِ نظر کړی) دی، مګر دا چې داسې کوم عذر شتون ولري چې ستاسو له واکه بهر وي. که چمتو شوي چارواکي ستاسو غوښتنلیک بېرته اخیستل شوی وګڼي، تاسو به د پناه غوښتونکي په توګه خپل موقف، د مرستو او خدماتو حق، او همدارنګه په دې هېواد کې د پاتې کېدو حق له لاسه ورکړئ



د ثبتولو وروسته، تاسو به یو رسمي سند ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي چې ستاسو غوښتنلیک جوړ شوی او ثبت شوی و. یوځل چې تاسو خپل غوښتنلیک ثبت کړئ ، تاسو به یو رسمي سند ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره یو غوښتونکی یاست.

تاسو باید دا هر وخت له ځانه سره ولرئ.



## ګام 2. ستاسو د غوښتنلیک مقدماتي څیړنه

یوځل چې ستاسو غوښتنلیک وسپارل شي، بل ګام **ستاسو د غوښتنلیک مقدماتي څیړنه ده.**

**د مقدماتي څیړنې پر مهال، چارواکي به ستاسو د سپارل شویو عناصرو ارزونه وکړي چې ایا په حقیقت کې نوي دي او ایا دا عناصر احتمال لري چې ستاسو د مخکیني غوښتنلیک پایله بدله کړي کوم چې رد شوي وو.**



د مقدماتي څیړنې پر مهال، تاسو یوې مرکې ته رابلل کېدی شئ. که چېرې تاسو یوې مرکې ته راونه بلل شئ، نو مقدماتي څیړنه به یوازې په فایل کې د سپارل شویو عناصرو پربنسټ وي.



د مقدماتي څېړنې په پایله کې، ستاسو غوښتنلیک یا هم په پام کې نیول کېدی شي:

- **د منلو وړ**، یا
- **د نه منلو وړ.**

که چېرې ستاسو غوښتنلیک **د منلو وړ وي، ستاسو غوښتنلیک به مخکې نور هم وڅېړل شي.** دا پدې مانا دی چې تاسو به هماغه ګامونه تعقیب کړئ لکه څنګه چې د معیاري پناه غوښتنې کړنلارې کې دي.

که چېرې ستاسو غوښتنلیک **د منلو وړ نه وي، نو دا به نور ونه څېړل شي او کړنلاره به پای ته ورسیږي.** چارواکي به تاسو ته د هغو وجو په اړه خبر درکړي چې ستاسو غوښتنلیک يې د نه منلو وړ وموندلو. تاسو ته به په لیکلي ډول د پرېکړې په اړه خبر درکړل شي. که چېرې تاسو د پرېکړې سره موافق نه یاست، نو تاسو د دې خلاف (پرضد) استیناف کولی شئ. تاسو يې لګښته د قانوني سلاکر/سلاکرې (وکیل/وکیلې) لپاره غوښتنه کولی شئ ترڅو تاسو سره استیناف کې مرستې وکړې.




ستاسو غوښتنلیک **د منلو وړ** دی که تاسو په خپل غوښتنلیک کې **نوي عناصر** وړاندې کړئ او دا نوي **عناصر وړاندیز کوي چې تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.**

ستاسو غوښتنلیک **د نه منلو وړ** دی که تاسو نوي عناصر وړاندې نه کړئ چې دا وړاندیز کوي چې تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.

**که چېرې ستاسو غوښتنلیک د منلو وړ وموندل شي، نو لاندې ګامونه به پلي شي.**

## ګام 3. په وړتوبونو باندې ستاسو د غوښتنلیک څېړنه

که چېرې ستاسو غوښتنلیک د منلو وړ وي، چارواکي به د هغه وجو څېړنه وکړي چې تاسو پرې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کوئ او تاسو ولې خپل هېواد ته بېرته ستنیدل نه غواړئ (کوم ته چې په وړتوبونو باندې څېړنه ویل کیږي). که چېرې ستاسو غوښتنلیک د منلو وړ وي، نو دا به هماغه ګامونه تعقیب کړي لکه څنګه چې د معیاري پناه غوښتنې کړنلارې کې دي. سره له دې، ستاسو د راتلونکي غوښتنلیک د څېړنې وخت ممکن ګړندی شي.



تاسو به یو شخصي مرکې ته راوبلل شئ، ترهغه چې واکمنه اداره ستاسو په فایل کې د عناصرو پربنسټ مستقیم مثبته پرېکړه وانخلي.

## طبي معاینه



چارواکي کېدی شي له تاسو څخه د تیرو ځورونو یا جدي زیانونو نښو په اړه د طبي معاینې ترسره کولو غوښتنه وکړي. معاینه بې لګښته ده او له تاسو څخه به وغوښتل شي چې دې ته خپل رضایت ورکړئ.

تاسو ته به د معاینې د پایلو په اړه خبر درکړل شي، کوم چې ستاسو د غوښتنلیک په ارزونه کې به په پام کې ونیول شي. که د چارواکو لخوا د هېڅ معاینې غوښتنه ونشي، تاسو په خپل لګښت د معاینې غوښتنه کولی شئ.

## ګام 4. ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه



چارواکي به تاسو ته په لیکلي ډول خبر درکړي چې آیا تاسو ته نړیوال خوندیتوب درکړل شوی دی یا نه.



### د استیناف درخواست کولو احتمال

که چېرې تاسو د پرېکړې سره موافق نه یاست، نو تاسو د هغې په وړاندې استیناف/اپیل کولی شئ.

## ستاسو حقونه څه دي؟

### د پاتې کېدو او د استقبال ملاتړ او خدمتونو ترلاسه کولو حق

که چېرې دا ستاسو لومړی ورپسې غوښتنلیک وي، په اصولو کې تاسو ته اجازه درکول کیږي چې د خپل غوښتنلیک تر څیړنې تامیدو پورې پدې هېواد کې پاتې شئ.

❗ **تاسو ته کېدی شي د خپل غوښتنلیک د څیړنې پرمهال د پاتې کېدو اجازه درنکړل شي** که چېرې:

- دا ستاسو دویم یا نور ورپسې غوښتنلیک وي؛ یا
- تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره یوازې د دې لپاره غوښتنه کړې وه چې له دې هېواد څخه خپله د نږدې ایستلو موده وځنډوئ.

❗ **تاسو ته کېدی شي د استیناف (اپیل) د کړنلارې پر مهال د پاتې کېدو اجازه درنکړل شي.** په دې صورت کې، چارواکي به تاسو ته د وجو په اړه خبر درکړي او که تاسو کولی شئ د استیناف (اپیل) کړنلارې پر مهال د پاتې کېدو اجازې غوښتنه وکړئ او څنګه.

ستاسو د پاتې کېدو پر مهال، تاسو به **د استقبال ملاتړ او خدمتونه** ترلاسه کړئ؛ سره له دې، دا **ممکن** د یوې اړونده واکمنې ادارې د انفرادي پرېکړې پر بنسټ **محدود وي**. تاسو د هغه استقبال ملاتړ او خدمتونو په اړه نور معلومات چې تاسو به یې ترلاسه کړئ په یوه جلا بروشر/رساله کې موملی شئ.





## تاسو د شفاهي ژباړې ترلاسه کولو حق لرئ



که چېرې تاسو اطالوی ې خبرې نه کوئ، یو ژباړونکی به ستاسو سره په راجستر کولو او ستاسو د غوښتنلیک د سپارلو پرمهال او همدارنګه ستاسو د شخصي مرکې پرمهال له چارواکو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي، که چېرې یوه ترسره شي. ژباړونکی بې لګښته دی.

## تاسو د خپلې شخصي مرکې لپاره د نارینه یا ښځینه ژباړونکي او مرکه کونکي غوښتنه کولی شئ، که چېرې دا تاسو سره په بشپړ ډول ځان څرګندولو کې مرسته کوي




ستاسو د وجو پورې اړه لري او که شتونوالی ولري، ستاسو غوښتنه به پوره شي.

## تاسو باخبره د پاتې کېدو او د وړیا قانوني مشورې غوښتنې حق لرئ

تاسو د پناه غوښتنې کړنلارې په جریان کې د قانوني مشورې، پرته څه لګښت څخه غوښتنه کولی شئ.

په هرصورت، **تاسو د وړیا قانوني مشورې حقدار نشئ کېدی که چېرې:**

- تاسو خپل ورپسې غوښتنلیک یوازې د بېرته ستنیدو پروسیجر 'ودرولو' لپاره سپارلی وي، یا
- دا ستاسو دوهم (یا نور مخکې) ورپسې غوښتنلیک دی.



## تاسو د قانوني یو سلاګر/سلاګرې (وکیل/وکیلې) سره مشوره کولی شئ په خپل لګښت

قانوني سلاګر (سلاګره) هغه کس دی چې تاسو ته د چارواکو سره په معامله کې شخصي قانوني مرسته یا استازیتوب وړاندې کوي. دا ستاسو حق دی چې د پناه غوښتنې د کړنلارې په هره مرحله کې په خپل لګښت یو قانوني سلاګر (سلاګرې) سره مشوره وکړئ.

تاسو د اپیل په جریان کې د یو وړیا قانوني سلاګر (سلاګرې) غوښتنه کولی شئ، ترهغه چې تاسو د خپل قانوني استازیتوب لګښتونو پوښلو لپاره سرچینې ولرئ. قانوني سلاګر (سلاګره) به د راجستر کولو د درخواست وروسته بې لګښته چمتو شي.



که تاسو یو ځانګړی قانوني سلاکر (سلاکره) غوره کړئ، نو ژر تر ژره د دوی د اړیکو جزئیات له چارواکو سره شریک کړئ.
د خپل اوسني قانوني سلاکر (سلاګرې) جزئیات له چارواکو سره شریک کړئ ترڅو دوی ستاسو د غوښتنلیک په اړه هغوی خبر وساتي.

## تاسو د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) یا نورو سازمانونو سره خبري اتري کولی شئ

تاسو د پناه غوښتنې کړنلارې په هر ګام کې د UNHCR یا د دوی د شریک سازمانونو سره اړیکه او خبرې اترې کولی شئ.




UNHCR د پناه لټوونکو او کډوالو ګټو او حقونو ساتنه کوي.
UNHCR یا د دوی شریک سازمانونه پناه لټوونکو ته معلومات او مرسته هم وړاندې کوي.

د پناه غوښتنې د کړنلارې په اړه د UNHCR د اړیکو جزئیات او همدارنګه معلومات د UNHCR په ویب پاڼې https://help.unhcr.org/ کې موندل کېدی شي

تاسو ته کېدی شي بې لګښته معلومات او مرسته هم چمتو کړې.

تاسو بل کوم سازمان سره هم اړیکه نیولی شئ چې غوښتونکو ته قانوني مشوره یا بله مشوره وړاندې کوي.

## ستاسو مکلفیتونه څه دي؟

### د دې هېواد قوانین تعقیب کړئ



### په هغه هېواد کې پاتې شئ چېرته چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې ده




کوم بل +EU هېواد ته د تللو هڅه مه کوئ. تاسو یوازې په هغه صورت کې بل +EU هېواد ته د سفر کولو اجازه لرئ که چېرې تاسو ته د چارواکو لخوا د داسې کولو اجازه درکړل شي.

### ډاډ ترلاسه کړئ چې چارواکي تاسو ته رسېدلی شي او دا چې تاسو خپل ملاقاتونو ته دوام ورکړئ



تاسو باید په حضوري ډول ټولو ملاقاتونو کې ګډون وکړئ هرکله چې د چارواکو لخوا له تاسو څخه داسې غوښتنه وشي. ته باید په وخت هلته شتون ولرئ. که چېرې تاسو د کوم جدي وجې له امله په یو ملاقات کې ګډون نشئ کولی، نو په سمدستي توګه چارواکو ته خبر ورکړئ او وجه ورته تشریح کړئ.

### له چارواکو سره په بشپړه توګه همکاري وکړئ



کله چې وغوښتل شي، تاسو باید لاندې کارونه وکړئ.

- د خپل غوښتنلیک ملاتړ لپاره خپل شخصي توضیحات، اسناد او نور اړونده معلومات وړاندې کړئ.




- د پېژندنې اسناد وړاندې کړئ. که تاسو دا موارد نلرئ، نو وجه یې تشریح کړئ.



- خپل د ګوتو نښانې او عکس (فوتوګراف) ورکړئ.



- په ټاکل شوي نېټه او ځای کې خپل غوښتنلیک وسپارئ.
- په شخصي مرکې کې ګډون وکړئ او د مرکې پر مهال پوښتنو ته ځواب ووایاست.



- د خپل ځان او د خپل د توکو د لټولو سره موافقه وکړئ، که چېرې د عامه امنیت چارواکې د داسې کولو غوښتنه وکړي. لټون به یوازې هغه وخت واقع شي چېرې چې اړین وي او کوم دلیل ولري. اداره به د لټون لپاره وجې تشریح کړي. لټون به ستاسو په شان ستاسو د ورته جنس د یو کس لخوا ترسره شي او په داسې طریقه به ترسره شي چې ستاسو وقار ته درناوی کوي.

## ربښتیا وواياست



ستاسو د غوښتنلیک د اعتبار لپاره هغه څه چې تاسو يې وایئ ډېر مهم دي. له همدې امله تاسو اړتیا لرئ چې ايمانداره (صادق) اوسئ او د خپل پېژندنې، کورنۍ، اصلي هېواد، د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنه کولو وجو په اړه پوره او سم معلومات ورکړئ.

تاسو کېدی شي هر هغه څه په ياد ونلرئ نو تاسو ممکن ټولو پوښتنو ته ځواب ورکولو ور نه شئ. په دې صورت کې، ځوابونه مه ايجادوئ بلکې تشريح يې کړئ چې تاسو يې په ياد نه لرئ.

## د اړيکو سم جزئيات وړاندې کړئ او د اړيکه نيولو وړ اوسئ




چارواکي بايد وکولای شي ستاسو د نړيوال خونديتوب غوښتنليک په اړه تاسو سره اړيکه ونيسي.

که چېرې ستاسو پته، برېښناليک يا د تليفون شمېره بدله شي، نو سمدستي چارواکو ته خبر ورکړئ.

❗ **په ياد ولرئ، تاسو بايد** اټلی **پرېنږدئ پداسې حال کې چې ستاسو غوښتنليک څېړل کيږي.**

که چېرې تاسو په يو مرکز کې ميشته کيږئ، نو تاسو بايد د چارواکو له اجازې پرته بل ځای ته لاړ نشئ.

**ټول هغه معلومات او اسناد چې ستاسو د غوښتنلیک ملاتړ کوي بخدمت: د عامه امنیت چارواکو او د نړیوال خوندیتوب د منلو سیمه ییز کمیسیون ته ـ ته وسپارئ**

دا ممکنه ده چې تاسو ته به د یو شخصي مرکې لپاره بلنه درنکړل شي او کړنلاره به ډېره لنډه وي، یوازې یو څو ورځې یا حتی یوازې یو څو ساعته وخت واخلي. له همدې امله، دا مهمه ده چې تاسو پرته له ځنډه چارواکو ته ټولې هغه وجې او نوي عناصر وواياست د کومو لپاره چې تاسو بیا غوښتنه کوئ.


تاسو باید اصلي اسناد وړاندې کړئ، هر چېرې چې امکان لري. تاسو باید جعلي سند ونه سپارئ.

تاسو باید د غوښتنلیک سپارلو په وخت کې ژر تر ژره ټول معلومات او اسناد وسپارئ. که چېرې تاسو سره اسناد سمدستي شتون نلرئ، نو تاسو باید هغه ژر تر ژره وسپارئ، تر هغه چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه رپه هغو طریقو او د هغه وخت په دننه کې چې تاسو ته به وښودل شي.



## پایلې څه دي که چېرې تاسو خپل مکلفیتونه پوره نه کړئ؟

### ستاسو د پناه غوښتنې کړنلاره به ودرول شي




ستاسو غوښتنلیک به **بېرته اخیستل شوی یا رد شوی** وګڼل شي. دا پدې مانا دی چې تاسو کېدی شي د نړیوال خوندیتوب لپاره د یو غوښتونکي په توګه خپل وضعیت او ټول اړوند حقونه له لاسه ورکړئ.

دا به پېښ شي که چېرې تاسو لاندې مواردو څخه انکار وکړئ:

- د معلوماتو ورکولو څخه کله چې د داسې کولو غوښتنه وشي
- د خپلو ګوتو نښانو یا عکس (فوتوګراف) اخیستلو څخه
- خپله پته ورکولو څخه
- د خپلې شخصي مرکې په جریان کې پوښتنو ته ځواب ویلو څخه، که کومې وي

دا به هم پېښ شي که چېرې تاسو:

- پرته له کومې جدي وجې څخه په ټاکل شوي وخت حد کې خپل غوښتنلیک ونه سپارئ
- پرته له کومې جدي وجې څخه شخصي مرکې کې ګډون ونکړئ
- چارواکو ته راپور ورنکړئ کله چې د داسې کولو غوښتنه وشي
- په هغه ځای کې پاتې نه شئ چې تاسو پاتې کېدو ته مکلف یاست
- چارواکي تاسو سره اړیکه نشي نیولی
- هېواد پرېږدئ.

تاسو د پناه غوښتنې د کړنلارې پرمهال په هر وخت کې د خپل غوښتنلیک بېرته اخیستلو پرېکړه هم کولی شئ، د مثال په توګه، ځکه چې تاسو خپل هېواد ته د ستنیدو پرېکړه کړې. په دې صورت کې، تاسو به د نړیوال خوندیتوب لپاره د یو غوښتونکي په توګه خپل وضعیت له لاسه ورکړئ.

## د استقبال ځينې ډول او ځينې خدمتونه کېدی شي کم یا لغوه شي



په ځينو حالاتو کې، چارواکي کېدی شي د ملاتړ یو ډول یا ځينې خدمتونو کمولو یا لغوه کولو پرېکړه وکړي. چارواکي به په ليکلي ډول د داسې پرېکړې په اړه خبر درکړي وروسته لدې چې دوی ستاسو د حالت وارزونه وکړي.

تاسو نور معلومات په یوه جلا بروشر تاسو کولای شئ په یو بل کتابګوټي (رسالې) کې چې «په امدادي مرکز کې حقونه او مکلفيتونه» نومېږي، نور معلومات ترلاسه کړئ کې موندلی شئ.

## ستاسو غوښتنليک کېدی شي په منفي توګه اغيزمن شي

که تاسو د خپلې پېژندنې یا غوښتنليک پورې اړوند ګمراه کونکي یا غلط معلومات چمتو کوئ، یا که تاسو اسناد له منځه وړئ یا غير قانوني جوړوئ، دا کېدی شي ستاسو په غوښتنليک منفي اغيزه ولري، د مثال په توګه په لاندې ډول.



- ستاسو غوښتنليک کېدی شي رد شي او تاسو کېدی شي نړيوال خونديتوب ترلاسه نکړئ.

- ستاسو غوښتنليک کېدی شي د پناه غوښتنې د پولې په کړنلاره کې وخيړل شي (که داسې وشي، تاسو به په کړنلاره باندې ځانګړي معلومات ترلاسه کړئ).

له تاسو څخه نړيوال خونديتوب هم اخيستل کېدی شي که چېرې چارواکي وروسته ومومي چې تاسو د پناه غوښتنې کړنلارې په جريان کې رښتيا نه دي ويلي.

## تاسو به ځانګړې مرسته ترلاسه کړئ که تاسو ورته اړتیا لرئ

تاسو باید چارواکو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ که تاسو کوم ځانګړي ملاتړ ته اړتیا لرئ. دا اړتیاوې د مختلفو حالاتو لکه امیندوارۍ، ناروغۍ یا د رواني، فزیکي یا جنسي تاوتریخوالي تجربو څخه راپورته کېدی شي.

چارواکي به ستاسو حالت وارزوي او ممکن د پناه غوښتنې په کړنلاره کې ستاسو د ګډون اسانولو لپاره اضافي ملاتړ چمتو کړي. د مثال په توګه، دوی کېدی شي ستاسو قضیې ته تخصصي کارکوونکي وټاکي یا د پناه غوښتنې کړنلارې اوږدوالی تنظیم کړي.



## که تاسو خپل هېواد ته ستنیدل غواړئ نو څه به وي؟

د پناه غوښتنې د کړنلارې په جریان کې هر وخت، تاسو پرېکړه کولی شئ چې په خپله خوښه بېرته ستانه شئ:

- خپل هېواد ته یا
- د ټرانزیټ هېواد یا بل دریم هېواد ته، که تاسو د داسې کولو حق لرئ.

که تاسو په خپله خوښه د بېرته ستنیدو پرېکړه وکړئ، ستاسو د پناه غوښتنې کړنلاره به ودرول شي یا رد شي او تاسو به نور په اټلی کې د پاتې کېدو حق ونلرئ.

که تاسو غواړئ په خپله خوښه خپل هېواد ته بېرته ستانه شئ، د خپل د اوسېدو د مرکز (امدادي مرکز) له مسوول سره او یا په مستقیم ډول د کډوالۍ اړوندې ادارې سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولای شئ د خوندي او د مقرراتو سره سم بېرته ستنېدو لپاره مشورې او مرستې ترلاسه کړئ



## د معلوماتو د ترلاسه کولو تایید

یو چارواکی به له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې دا تایید کړئ چې تاسو دا معلومات ترلاسه کړي. که چېرې تاسو په یو څه نه پوهېږئ یا که تاسو اضافي پوښتنې لرئ، تاسو تل پوښتنه کولی شئ.

CNA
COMMISSIONE NAZIONALE PER IL DIRITTO DI ASILO

euaa
EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

دا بروشر یوازې د معلوماتو موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامینځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشر بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هېوادونو لپاره د EUAA لخوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ لخوا پدې بروشر کې د شامل شوي معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب، هېڅ شخص په دې بروشر کې د موندل شوي معلوماتو کارولو ذمه واری نه لري.

European Union Agency for Asylum, 2025 ©

ISBN 000-00-00-00000-0
doi: 00.0000/0000000
AA-00-00-000-PS-C

Publications Office of the European Union